# بد فال نیول شرک دی، بد فال نیول شرک دی، بد فال نیول شرک دی،- درې ځلې» او زمونږ څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «بد فال نیول شرک دی، بد فال نیول شرک دی، بد فال نیول شرک دی،- درې ځلې» او زمونږ څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي.
[صحيح]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د بد فال نیونې په اړه خبرداری ورکړی دی، او هغه بد انګېرل دي که هغه له اورېدلو څخه وي يا د لیدلو څخه، او يا له مرغانو، حیواناتو، مصيبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څخه وي. خو له الوتونکي مرغه يې ځکه يادونه وکړه چې د جاهليت په زمانه کې مشهور و، په اصل کې به چې کله هغوی په کوم کار پیل کاوه لکه سفر، سوداګري او داسې نور، نو مرغه به يې خوشې کړ، که چېرته به ښي لور ته والوت نو نیک فال به يې ونيوه او خپل کار پسې به روان شو، او که چېرته به چپ لورې ته والوت نو بد فال به يې ونيوه او له خپل کار څخه به لاس په سر شو. او خبر يې ورکړ چې دا کار شرک دی، او بد فال نیول لدې امله شرک ګڼل شوی؛ چې هر خير الله پېښوي، او هېڅوک شر نه شي دفع کولی مګر يوازې يو الله دی چې شريک نه لري. او ابن مسعود رضي الله عنه يادونه وکړه چې کېدای شي د مسلمان په زړه کې يو څه بد فال راشي، خو بايد په الله جل جلاله يې په توکل کولو سره دفع کړي، د اسبابو له کارولو سره.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3383

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee